DAILY
اراده
د افغان نغراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

شماره یازدهم سال سوم
شماره مسلسل ۹۲
شنبه ۲۸جدی ۱۳۸۱هـ.ش
۱۶ ذیقعدة الحرام ۱۴۲۲هـ.ق
18 January 2003

سال تاسیس ۱۳۷۹هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

قیود شب گردی ضرورتی است از انتهاي ناگزیری که انفاذش را اینبار به آرزوی تامین امنیت در شهر کابل تقاضامی کنند، تاباشد زمینه های برای بهانه برجا نماند ومسوولین تامین امن وامان بتوانند دراجرای وظایف سر خرو وسر بلند جلوه کنند. استدعای مادر انفاذ قیود اینست که درمحدوده شبگردی خلاصه شده و به شکل سنگ کم بیاد بقال افتادن تبارزنکند، زیرا ازقیود ها زیاد دل آزاری دیده ایم . مباد انکه باز شاخ وپنجه برآورده و برزبان وقلم چیره شود.



موسسات حقوق بشر جهانی ونهاد های عریض وطویل ایجاد شده درکشور باآنهمه غوغا وفیشن ودرشن وکش وفش که دارند، به نام دفاع از حقوق زن ، درمورد این مادر که نماینده گی از هزاران مادر وزن بینوا در کشور می نماید، چه خواهندگفت؟

درعراق کودتائی راه اندازی خواهدشد

عربستان سعودی روی طرحی کارمی کند که بتواندجلو معضلاتی که جنگ امریکا با عراق ایجاد خواهد کرداوقبل بگیرد.

گزارش های منتشره در روزنامه های چاپ امریکا حاکی از آنست که عربستان سعودی می خواهدرژیم عراق را با راه اندازی کودتائي توسط عده ئی از جزلان شامل دستگاه حاکم بر عراق ساقط سازد گفته میشودکه این طرح نهائي شده و اکنون ضرورت به تضمین های است که بایدسازمان ملل درمورد عفو نظامیان وبقایای رژیم بر سراقتدار در عراق بعد ازسقوط صدام حسین بسپارد. دراین پیشنهاد صرف وصرف مجازات یکصد تن از نزدیکان رئیس جمهور عراق در نظر گرفته شده است خبر می افزاید. رژیم سعودی از سقوط صدام بدست مخالفین کنونی وی(احزاب شیعه وهم مبارزان کردی که حمایت امریکا برخوردارانند) درهراس است از اینرو خواسته است سقوط حاکمیت عراق را در دستان دیگری سراغ بیند تا آینده بی درد سری را درجامعه عرب برای خودش تدارک ببیند

پرجنرال دوستم برید کوونکي اعتراف وکړ

دافغانستان ددفاع وزارت دمرستیال جنرال عبدالرشید دوستم ویاند سید نورالله ویلي چې پرجنرال دوستم دوژونکي بریدمسئول کس يې نیولی

ښاغلي نورالله دبریدکوونکي کس دنوم له ښودلوډډه وکړه خوبریدکوونکي اعتراف کړي چې دالقاعدې اوطالبانولپاره يې کارکولو. ددوستم ویاندویلي چې دوي هغه کس مخکې له دې چې پردوستم وژونکی بریدترسره کړي ونیوه اوشکمن کس پردې اعتراف کړی چې موخه يې دوستم اوددهغودنیږدوملګرولـه منځه وړل وٴ

یوامریکایي سرتیری تپي شو

دمتحده ایالاتودپوځ یوه ویاندویلي چې ددوی یوعسکردافغانستان په لویدیزکې په پښه تپي شوی دی.

راجرکینګ پرون، داخرګندونې وکړې اوویې ویل چې دخانګړوځواکونوداسرتیری هله تپي شوچې شیندندته نیږ دي دی او دده ملګری په خپل مورچل کې تربریدلاندې را غلل.تپي شوی عسکردامریکایي ځواکونوسترې اډي،کندهارته ولیږدول شو.

همداشان دیوه بل خبرله مخې تیره ورځ امریکا یي ځواکونو کندهار اوکابل ته نیږدې دوسلو ځلورزیرمې ومونډلې چې په سلګونودهاوانونواونوروسلو مرمي پکې خوندي وې.

کارمندان افغان موسسات خارجی ثبت وراجستر شوند

وزارت امورداخله اداره انتقالی اسلامی افغانستان اعلام داشته است که باید نمامی کارمندان افغان موسسات خارجی که مصروف کار در داخل افغانستان اند ثبت وراجستر شوند.

خبرمی افزاید قبلاً هدایتی در رابطه ثبت وجمع آوری کوایف آنعده از اتباع کشور که با موسسات خارجی کارمی کند به شعبات مربوط صادر شده است وشعبات وظیفه گرفته اند تا خلص سوانح وعکس های این چنین اشخاص را جمع آوری نمایند.منبع در مورد ضرورت را اندازی این پروسه گفته است که باتکمیل این معلومات درشناخت حمله کننده گان برکارمندان خارجی موسسات کمک خواهد کرد. قابل یادآوری است که قبلاً طالبان هم به چنین اقداماتی دست زده بودند.

فیصله حکومت مبنی بر خویشتن داری از مصرف گوشت درموسسات ملکی و نظامی ، در هفته سه روز، مسلماً ،هم صرفه جوئی در مصرف گوشت وهم در بودجه حکومت است ، " هم خرماوهم ثواب" باتوجه به اینکه کارمندان ملکی ونظامی با معاشی که دریافت میدارند، مدت هاست که دندان گوشت خوری شان را کشیده اند، خوب بود که فیصله گوشت ناخوری . درهفته سه روز همگانی اعلام میشد تا طیف اصلی گوشت خواران جامعه ، بگذریم از احساس نیک واستقبال شان نسبت به مفاد این تصمیم:

الف: به دارائی شان افزوده می گشت،

ب : با توجه به مضراتی که مصرف همیشه گی گوشت دارد، سلامتی را نصیب وبه عمرشان افزوده می گردد.

چطور خواننده گان ارجمند. آیا شما بااین پیشنهاد ما موافقید؟

سرمقاله

ډلوی او پښتونکی خدای په نامه

په ښځمالۍ اداره کی سیاسی اوځانګړي مصلحتونه

دافغانستان دلنډمهالی او مینځمهالی اداروجوړیدل دافغانانو دتو دوهر کلیو سره ونمانځل شوی،اوتولوافغانانوپه ګډه دافغانستان دننه او دباندي دهر راز مرستواوهمکاریوژمنه ورکړه ددي غبرګون سره سره نړیوالی تولنې اوپه سرکې يې امریکی هم دپاملرنې وړعملی ګامونه پورته کړل مګر بیا افغان اولس کې هم هیلی او هم اندیښنې رامنځته شوي دي دبیلګی په توګه افغانستان ته دنړیوال سوله ساتی ځواک راتګ او دبیارغونی کارونو پیل هر افغان ته په زړه پوري ده اوپدي لارکې دزیاتو همکاریو کولوته چمتودي.

دافغانانوپه منځ کې دا ندیښنې دوړتکوپه اړوندیوتکې هم دمینځمهالی اداری دسیاسی اوخانګړیو مصلحتونو خبره ده. هغه داچې ټول افغانان پدي پوهیږی دمنځمهالی اداری کابینه دسیاسی مصلحتونو پربنسټ جوړه شویده خو دبده مرغه ددغی کابینې دوزیرانومعینان رئیسان دخانګړیومصلحتونو له مخی مقرر شویدي ددي نیوکو په پام کې نیولو سره ،هیوادوال هیله من دي چې دمینځمهالی اداری د مشر محترم حامد کرزی سلاکاران هم باید مسلکی کسان وي چې دادهیواد په بیارغونه او پرمختګ کې سترول لري چې دبده مرغه دمینځمهالی اداری اکثر سلاکاران دکابینی دغړو وزیرانو او معینانو په څیر مسلکی پوهه نه لري چې پدي ډول دهیوادپه ډیروحکومتی دندوکې خانګړ یو ذوقونو ته پاملرنه شوی، نه دهیوادوالو داکثریت غوښتنوته، دادی یو ځل بیاافغانان وړاندیزکوی چې دافغانستان دمینځمهالی اداری مشر دافغانانواندیښنې په پام کې ونیسی او هغه مسلکی کدرونه چې ترتنه وزګاراو یا دغیردولتی موسسوله خوا جذب شوي ، دي کدرونوته باید دعوت ورکړشی او ورته دکارزمینه برابره شي او که داونه شي نو په راتلونکی یوکال کې به هم دهیواد دامنیت اوبیارغوني چاري دستونزوسره مخ وي .

وسله پلټونکوته بایدلارم وخت ورکړل شي

دفرانسې ولسمشرژاک شیراك ویلي چې په عراق کې دی دملګروملتونووسله پلټونکوته لارم وخت ورکړل شي.

ښاغلي شیراك داخبرې دوسله پلټونکودمشرهانس بلیکس سره په ګډه غونډه کې وکړي.ده دهغه رپوټ په اړه چې درواني میاشتې په پای کې به دامنیت شوری ته وړاندې شي دفرانسې دجمهوري ریاست دمامي رسمي دریځ ډاګیزکړاوزیاته يې کړه چې پرعراق یوارخیز برید غیرعادلانه دی اوفرانسه يې ملاتړنه کوی .له بلې خوادعراق ولسمشرصدام حسین ویلي چې که امریکا پرعراق برید وکړي ددوی ځواکونه به دوی ته سخته ماته ورکړي ده داخبرې پرکویټ دحملې ددولسم کال دپوره کیدو وپه مراسموکې وکړي

زن را، مادر را، ستایش کنیم

ص (۳)

درصفحه چهارم بخوانید

مجبوریت است یاحاتم بخش

که وغواړو کولای شو

برق هم ازگوشت گاومیش رنگ گرفت

مرکزی واکمنی اودمصلحت ستراتیژی

مورِ ولیدل چې د بن په تاریخي کنفرانس کې لومړی د موقتي اداري او شپږ میاشتې وروسته د بیرنۍ لویې جرګې د جوړېدو له لارې د انتقالي اداري په جوړولو باندې د هېواد د ټولو متخاصمو ډلو، جهادي تنظیمونو او ملي شخصیتونو له خوا عمومي توافق مینځ ته راغې او په خاص ډول په لویه جرګه کې تولو را بلل شویو کسانو د نظر په یو والي سره ومنله چې د خپلو هر ډول تنظیمي، فرقه یي، سمتي او قومي ګټو پر ځای به ملي او هېوادنیو ګټو ته ترجیح ورکوي او د خپل هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا، ملي یو والی، ملی وراثت او ملي هویت د را ژوندۍ کولو په خاطر به د یو مرکزي حکومت په محور را ټولیږي او په ګډه به د خپل ملي حاکمیت د پیاوړتیا لپاره کار کوي.

که مورِ د پورتنې ستراتیژۍ عملي برخه وڅیړو نو په څرګنده توګه ویلای شو چې د پورتنې هدف لپاره په صداقت ایمانداری او نیک تفاهم سره په هغه اندازه کار نه دی شوی چې د وخت د ایجاباتو او د هېواد د خلکو د غوښتنو تقاضا ده. د ساری په توګه د مرکزي حکومت د اغیزمنتیا او پیاوړتیا لپاره د ملي اردو او د مسلکي پولیسو د جوړولو کار د میږې په قدم روان دی د وسلو ټولول او په هېواد کې د غیر ضروري ملیشو د بې وسلې کولو چارې هم دخلکو د قناعت وړ نه دی. وسلې ګدام کېږي خو ورسره دا اندیښنه هم شته چې کېدای شي دغه وسلې بیا هم په لازم وخت کې د سیمې د جنګ سالارانو په واک کې ولوېږي او بیا هم د ځینو شیطاني شبکو په کمیسیون د کورنۍ جګړې اور بل شي زمورِ هیله داده چې راټولې شوی وسلې د آیساف د ځواکونو تر مستقیمې ځارنې لاندې راشي او کله چې ملي اردو جوړه شي له هغې وروسته ددغې اردو په واک کې ورکړی شي.

همدارنګه مورِ د انتقالي اداري د وروستیو فرمانونو او په ځانګړې توګه دهېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د پوځي او ملکي دندو د جلا کولو په باب هم عملي موثریت کم وینو. ځکه لا تر اوسه د قدرت انحصارونکی دی ته نه دي حاضر شوی چې په داوطلبانه توګه یواځې یوه دنده غوره کړي او نورې چوکۍ هغو کسانو ته پرېږدي چې د نومورې کار په پر مخ بیولو کې مسلکي پوهه. لوړې زده کړې او کدرې مهارتونه ولري مورِ اوس هم وینو چې په ولایتونو کې ځینې کسان هم د پوځي لغوه شویو زونونو چارې پر مخ بیایي او هم یې په ځنګ کې د ولایت او بناروالۍ او کمرکاتو چوکۍ په خپل انحصار کې ساتلی او یا یې ددغو ادارو د عایداتو د لوټولو لپاره چې د بیت المال شتمنی ګڼله کېږي خپل دوستان او منسوبین ګمارلی دی چې دغه راز کار د هېواد له لوړو مصالحو سره ضدیت لري او نه بخښونکی خیانت دی.

نن ورځ مورِ وینو چې ددغه فقیر او بې وزلې هېواد د ملي عاید زیاته برخه یواځې له ولایتي ګمرکونو ځخه ترلاسه کېدې شي چې د بده مرغه هغه هم نن د هغو جنګ سالارانو په جیبونو کې پریوځي چې هغوی دغه راز ملي شتمني غنیمت او یا د ځان لپاره د جهاد ثمره بولي.

نن د انتقالي اداري د مشرتابه له مقام ځخه د هر افغان او په تېره بیا ددې هېواد د بې وزلو، وږیو، ناروغو او نیستمنو خلکو. کوندو او یتیمانو غوښتنه داده چې ددغه رازکسانو د ناوړه استفادې لاسونه لنډ کړي او پرې نړدې چې ددغه خوار اولس ملي شتمني یو موټې بې احساسه او په خپله ګټه مین کسان په خپلو جیبونو کې واچوي او دغه فقیر هېواد لاپسې بې وزله او ناچاره کړي.

دا ځرګنده خبره ده چې ددغه راز خندونو په له منځه وړلو کې انتقالي اداره یواځې نه ده نن ددې هېواد ټول ربنتیني او اصیل بچي په خپل ټول مادي اومعنوي وس او ځواک او همدارنګه نړیواله ټولنه زمورِ د انتقالي اداره د مشرتابه د دیموکراتیکو او عامه خیر ښیګڼو د طرحو تائید او ملاتړ کوي. نو په کار ده چې د هر ناجایزه ملي ضد اقدام په مخنیوی کې نور له بې تفاوتی او سهل انګاری ځخه کار وانخستل شي اوزمورِ د ملي پر مختګ ودې، سوکالۍ، سولې او ثبات او په پای کې د هېواد د هر اړخیزې رغاونې په لاره کې پراته خنډونه باید لرې شي.

همدارنګه افغان خلک له خپلو نړیوالو دوستانو او په ځانګړې توګه د تروریزم په وړاندې له خپلو هم سنګرو ملګرو ځخه هیله من دي چې زمورِ په هېواد کې نور د مصلحت ستراتیژۍ سره مخه ښه وکړي او هغه ځوک چې د خپل هېواد په ګټه، د بشري عدالت او حقوقو په ګټه له ګام اېښودلو سره مینه نلري او اوس هم د نړیوالې ټولنې پر خلاف له ترور، سړې وژنې مخدره او نشه یي موادو، قومي او سمتي ګټو، بشري ضد فعالیتونه سره علاقمند دي له خپلو مرستو ځخه بې برخې کړي او د هغوی په له مینځه وړلو کې له مرکزي واکمنۍ سره چې د خلکو د آرادی مظهر ګڼل کېږي مرسته وکړي.

شاه محمود زیارمل

دوسلو څخه فریاد

دشمالي ولایتونوپه تیره بیا د بلخ ولایت په اړوندوسیموکی دامنیتی وضعي دخرابوالی اودغلاووژنودپیښوزیا توالی ددغوسیموخلك دیته اړویستل،چې دمزارشریف په ښارکي دملګروملتونودفتر ته ورشي اودهغوي څخه وغواړي،چې خلك دټوپکمارودمنګولوڅخه وژغوري.

آیا په دغه ولایتونوکی دولتی چارواکی دخلکواواولسونوستونزو ته پاملرنه نه کوی اوکه یایي داپه وس اوقدرت کي نه ده چې دغه ستونزی حل کړی،اوکه دخلکوغوښتنی بی موردە او بي ځایه دی؟

په تیرولنډو ورځوکی دبلخ دولایت په مربوطاتوکي دپنځلسوڅخه زیاتی دوسله والو ددارواوغلاووپیښي شویدی،همدارازلس دقتل پیښې رامنځ ته شویدي،چې په یوه ولایت کي په دوه اونیوکي خلکوته داپیښي دزغم ورنه دي.همدارازدبلخ ولایت په بیلابیلو لویولارواوسرکونوکی پاتکونه ځای پرځای دي اودپاتك سالاری بازار ښه تود دی،دیوه موترچلوونکي له خولی چې یوازي دشولګری دولسوالی په سرك کی،چې دهغه ولایت نژدي شلوولسوالیوڅخه یوه ولسوالی ده ،دری ځایه پاتکونه ځای پرځای شوی ،چې دبیلا بیلو ډلواستازیتوب کوي اوهریویي بیا بیل،بیل حق! غواړي اوکه دډریورانو له خوایي مخالفت وشی،بیانووهل کیږی،تکول کیږی اوپه یوه اوبله نامه په کوټوکی اچول کیږی.

دسیمی خلك داټولی ستونزی به دغوسیموکی دوسلودپریمانی،دهستو ګنواوپه تیره بیاپه ښارکی دوسله والوډلودقرارګاوودځای پرځای کیدوڅخه ګڼی.هغوی دملګر وملتونو دفترته خپلی غوښتنی چې ډیری پرځای اومنطقی هم وی وراندی کړی اودهغوی څخه یې وغوښتل چې دوسله والو ډلوقرارګاوی دی دهستوګنودسیموڅخه ووځی اودبی وسلوکولو پروګرام دی دبلخ ولایت اودهغی په شاوخواسیموکی ژترژره عملی اوپلی شی .

له ورته ستونزوسره دهیوادنوروولایتونواو سیموخلك هم لاس او ګریوان دی.له دی سره،سره چی دادی یوکال دبی وسلوکولودپروګرام دپیل څخه تیریږی،خوپه دی برخه کی لومړنی ګامونه هم نه دی اخستل شوی.خلك دوسله والو ډلوپه منګولوکی ښکیل دی اوپه ټولووولایتونواوسیموکی ټوپك سالاری اودټوپك قانون چلیږی.

اوس نوددی وخت رارسیدلی دی چی دانتقالی اسلامی دولت رهبری دخلکودغوروااوبرحقه غوښتنوته مثبت ځواب ووایي اوخپلی هغه وعدی چیپه لویه جرګه کي یي خلکوته دټوپك سالاری دختمولواودبی وسلی کولو په هکله ورکړی وي عملی کړی

روښان

کابل بناروالی

په یوه کوچني تعمیر چې د بنار په مینځ کې پروت دی ان د کال له پیل نه تر اوسه هره ورځ په لسګونو خلك را ټول وي. پدې ګڼه ګوڼه کې د ټرافیک په نظم او ساتنه کې ښځې او ماشومان هم د غالبوزو په خبر ښوري کله د معاونینو او کله هم د بناروالۍ په دروازه هجوم ور وړي سپینې پانې په لاسو کې تاو وي او له یو بله سره ناندرۍ وهي. ډېر ځله خو داسې هم وشي چې امنیتي کسان د هغوی د ایل کولو توان له لاسه ورکړي.

سړ کال کابل بناروالی په پنځو شپږو دفعو د بنار په خنډیځ او جنوب کې د بې کوره وګړو لپاره د کورونو جوړولو په منظور څه اندازه ځمکې نمره کړې چې په اداري مراحلو کې د بناروال امضا. د کابل د ټولو ناحیو له خوا د عارض د سرپناه دنشتوالي تصدیق، د بناروالی کمیسیون او بالاخره د تاکل شوي نرخ تحویلول شامل وو. که څه هم پدې موده کې زیاترو خلکو ته ځمکې ورسیدې خو نه دا ګڼه ګونه کمه شوه او نه هم د شکایاتو مخه ټیول شوې. حاجي محمد چې بنایي د ۵۰ کلونو په منګ وي د ملګیتونو د معین دروازې ته ولاړ دي او وایي: "پسرلی له هجرت نه راستون شوي یم تر اوسه په یوه کندواله کې ژوند کوو پوره شپږ میاشتې وشوې چې د کور اخیستلو په منظور سهار تر مابنامه دلته ګرځم نه کمیسون دایر شو نه مې چا غږ اورېدلی وګورم چې زما نومه کله قبلیږي" کونډه زرلښته وایي "له پاکستان څخه د ملګرو ملتونو ټولنو را په مخه کړو اوس نه دلته کور لرو نه د ژوند امکانات، بس په امید امید د خپلوانو او دوستانو کره په نوبت شپې سبا کوو.

که څه هم د دولت ریاست د بدو او واسیطو په تورونو پخوانی شاروال او دهغه معاونین له دندو ګوښه کړل خو اوس هم مراجعین له واسیطو او رشوت نه سر ټکوي. خیرالله چې دریمه ځریضه یې هم د کمیسیون په صندوقونو کې ورکه شوې وایي: "دلته د هغه چا کار په ښېره اجرا کېږي چې د بناروال ملګري او یا هم په شخصي موټرونو کې راځي زمورِ په عرایضو مامورین بخاري ګرموي." خو نجیب الله بیا داسې انګیري چې د رشوت په لویه کې د دروازې محافظین هم لاس لري. دې وایي "که ملازم ته ډېرې پیسې ورکړې کېدای شي د بنار په هره برخه کې چې غواړې په اسنادو ثابته ځمکه درته وګټي..."

ددولت د رئیس له فرمان سره سم دا څو ورځې د ځمکو نوی ویش د څه مودې په مخه ځنډول شوی مګر زیاتره خلك دا فرمان هسې شکستې کړنې ګڼي.

او وایي چې د بناروالی د مقاماتو خوښه راشي په نویو عریضو پخوانۍ تاریخونه او نوي مهرونه لګوي.

تر ډېره د خلکو دا ادعاوي چې بناروالی په رشوت چلیږي بنایي له واقعیت سره اړخ ولګوي د همدې دلیل د ثبوت لپاره د ځوان شاپور خبرې قانع کوونکي دي نومورې چې له ډېره وخته د بناروالی په تور بازار کې کار کوي او د خلکو د بې کورۍ سندونه د څه حق الزحمې په بدل کې په ناحیو تصدیقوي وایي " د میدان هوایي ختیځ لورته یوه نمره ځمکه په (۶۰) زره پاکستاني روپو. په رحمان مینه د بنار جنوب پلو کې په (۴۰) زره کلداري او د ارزان قیمت سیمه کې یوه نمره ځمکه په پوره ۳۵ زره کلداري په ضمانت سره ایستلی شم." پدې سربیره کابل بناریان په ډېرو نورو ورځینو امورو کې د موجوده بناروالی رول ناکام ګڼي. په سړکونو خاورې ځځلي، د ناپاکو اوبو ډبونه په جادو او فرعي لارو کې د باطله موادو ډیرانونه او داسې نور چې د بنار چاپېریال یې ګواښمن کړي ددغه ستونزو بېلګې دي.

اباسین

مولوی رحمانی بوش ته څه وویل؟

څه باندې یوکال کیږي چې طالبان اودالقاعدې غړي افغانستان له سیاسي اتموسفیرڅخه په شاه کیدلو ته اړشول .دغوټولویاډیرویي پاکستان ته مخه کړه داچې پاکستان له تروریزم ضدټلوالي سره دملاتړاومرستې کولوپه غرض خپل پخواني یاران هیرکړل اوکه لا تراوسه ورسره خپله زړه یاري پالي دیوه طالب. جان خبروته به ځیرشوچې څه وایي ! بناغلی طالب وایي چې موږکله له خپل اخري سنګرکندهار څخه په شاکید لوته اړشولونومشرملاصاحب را ته دزغم اوحوصلې توصیه کولو.هغه به تل را ته ویل چې بری اوفتحه دحق په لوري ده.لیري نده چې یوځل بیاله سپین بولدك څخه ترحیرتان،پامیر اوتورخم پورې خپل سپین بیرغونه ورپوو.

بناغلی طالب زیاتوي چې دطالبا نوتکړه مخکښ ملاعبدالرحمن زاهد ،مولوي عبدالکبیر ،مولوي ارسلارحماني په پاکستان کې دیرې ،میلمستونونه اوبلاحسابونه لري.دده په وینامشرملاصاحب دکوچني اختر په مناسبت هغوطالبانوته چې دپاکستان په مدرسوکي زده کړي کوي،نبې ډیرې پیسې یعنې دکوچني اختر مبارکي ورته له کوټې څخه را لیږلې وه بناغلي طالب وایي چې مشرملاصاحب اواسامه بن لادن لا تراوسه په پاکستان کې میشت دي اودوز یرستان اوکوئټې ترمنځ کرخنده ګزمې کوي .دده په ویناوي دخپلو فدایانوډلې سره سمبالوي ترڅوپه افغانستان اوپاکستان کې په میشتوامریکایانو.اوغربیانویاد دې داسې ورځ راولي چې بیا دافغانستان نوم هم په خوله وانخلي .بناغلی طالب جان خپلو خبروته ادامه ورکوي اووایي چې ده خپله دعبدالرحمن زاهد له میلمیستون څخه لید نه کړې اوهلته یې ډیرې شپې کړي دي دي وایي چې ملاعبدالرحمن زاهدهرهغه کس ته چې په کابل اویادافغانستان په کوم بل بنارکې په یوه مهم ځای کې دبم چاودنه ترسره کړې له یونیم لك څخه تردریولکوپوري پیسې ورکوي دي وایي چې کیدلای شي په راتلونکي کې دطالبانومشري مولوي عبدالکبیرته وسپارل شي ځکه هغه له پاکستاني خفیه ایجنسي سره تینګې اړیکي لري اوداسلام اباد په بنارکي استوګنه لري.

طالب جان دخپله زړه غوټه خلاصوي اووایي چې موږته ملت اوخلك مهم نه دي بلکی اسلام مهم دي داځکه چې په اوسنیووختونوکې اسلام اودین ته خدمت کول ستره قرباني اوغټ زړه غواړي.

دي داهم وایي چې ددوي ځینومشرانوله امریکایي مشرانوسره دتیلیفون له لیاري خبري کړې اوامریکایانو دوي ته وړاندیزکړی ترڅوله بریدو وروسته واخلي خومشرملاصاحب بیاتروروستي سلګي دمقدسي جګړې (جهاد)خبره کوي اووایي چې موږباید تردې ډیره قرباني ورکړوترڅوبوځل بیا په هیواد کې اسلامي شریعت پلي کړو.

دي دملاارسلارحماني خبره هم ډاګیزه کوي اووایي چې دي بناغلي له ولسمشربوش سره دتلیفون په مټ خبرې کړي اوهغه ته یي ویلي چې موږ په هیواد کې دستاسوپرحضوردومره نه یوه غوصه لکه څومره چې دیوې ډلګي په حکومت په غوصه یوبناغلي ارسلابوش ته وایي چې په افغانستان کې اوسني حکومت دوي ته ځکه دمنلوورنه دي چې دیوې ډلې اویوه لوري حکومت دي .دبناغلي طالب جان په وینا چې دوي به له داخلي اوخارجي امریکا یا نوسره خپله مقدسه جګړه جاري ساتی

شهزاده

زن را مادر را ستایش کنیم

دمخ چلوونکی - ورانګه

طبیبه گیاه شناس معالج امراض صعب العلاج

پنج ماه میشود که بوطن بر گشته ام وطی این مدت سه تن از هموطنانم را که از ادامه تداوی مایوس گردیده بودند، معالجه نموده ام که ایشان صحت یاب گردیده وبه عضو فعال جامعه مبدل شده اند.

محترم داکتر گل صنم "حنیفی" احمدزی ضمن ارایه مطلب فوق، در رابطه با پیشه و فعالیت های طبی اش به خبرنگار اراده گفت:

متولد ولسوالی خاکجبار ولایت کابل و فارغ لیسه مریم هستم، از طفولیت به طبابت علاقمند بودم، به این آرزویم، باهجرت به کشور پاکستان و شمولیت در یکی از کورس های گیاه شناسی که توسط سازمان ملل متحد تدویر یافته بود رسیدم، هفت ماه در آن کورس آموزش دیدم، بعد به ایران رفتم شش سال در آنجا مصروف تحقیقات در علم گیاه شناسی شدم و بعد تر راهی کشور هندوستان گردیدم البته هدف از این سفر ها یم تکمیل تحقیقات علمی بوده است.

درنتیجه کاراین همه ساله بالاخره موفق به دریافت علاج سه مرض عمده که زنده گی اکثرانسانهاراتهدیدمیکند دست یافتم یعنی توانستم باتجویزادویه ای که خودم آنها را می سازم امراض سکته قلبی،سکته مغزی (فلج) وتشنج رامداواکنم وفعلا روی طرق تداوی امراض دیسک کمرواوتورس زانومصروف تحقیقات هستم که تجاربم دراین زمینه ها تاکنون هشتاد درصدنتیجه مثبت داده است.

طی مدت اقامت شش ساله ام در کشور ایران صد ها مریض را معالجه نموده ام نا گفته نماند مراجعین من اکثراً کسانی بوده اند که دوکتوران معالج از تداوی ایشان اظهار عجز نموده و به اصطلاح جوابشان کرده اند بطور نمونه میخواهم از مریضم رضا کسی که از دوپا فلج بود و طی ۲۰ روز تداوی روی پاهایش بلند شده به راه رفتن آغازید و دیگری فاطمه "رافعی" که کاملاً مفلوج بود وطی یک ونیم ماه کاملاً صحت یاب گردید و همچنان یکی از هموطنان خود مان که مهاجر بود در ایران بنام محمدنذیر که می گفت، باشنده موسهی چار دهی میباشد و طی دو ماه تداوی اش نمودم یاد آور شوم. واینک در وطن، سه تن از هموطنان ما هریک شاینسته گل که هم سکته قلبی وهم سکته مغزی کرده بود، رحیمه جان متعلم صنف پنجم مکتب نسوان رحمن مینه که از اثر سکته مغزی فلج گردیده بود و انجینرمحمدحنیف کارمند انکشاف دهات که به اورتورس زانو گرفتار بود به ترتیب طی مدت هشتاد روز وبیست روزویک ماه معالجه و تداوی نموده ام که هر کدام صحت کامل شانرا بازیافته و به زنده گی عادی و خالی از رنج و درد ادامه میدهند.

در پایان صحبت از محترم گل صنم "حنیفی" پرسیدم این همه را در کدام دانشگاه آموخته اید، بالبخندی گفت تالیفات بوعلی سینا را می خوانم.

زهره زرین

د مور غذایي رژیم دشودورکولوپه وخت کي

په طبیعی توګه په شی، ځکه په تیونو کې د مېندو د شودو د ببلابېلو بڼځو کې د په ډېره اندازه شوده زیاتوالی سبب کېږي، بڼه شودو په اندازه او ترکیب ذخېره کېدل کېدای شی به وی چې شوده کې ډېر توپیر لېدل دتیونو د اپسی سبب ورکونکی مېندی ددغو دتیونو د اپسی سبب شی، له بلی خوا په نوشابو ځخه زیاته لومړیو ورځو کې د لومړیو ورځو کې د استفاده وکړی. تیونوتشول اویه زیاته د شوده ورکوونکو مېندو اندازه دتیونولوشل او خواړه بایده چې د رودل پروتینی، قندي غوړ او دتیونودځوکودسوریودخ ویتامینونو (په تېره بیا د لاصېدلو سبب کېږي او D وېټامین) او همدا راز په دی توګه دا پخپله د د معدنی موادو په تېره تیونو د زیات کار او بیا کلسیمی موادو فعالیت او د شودودزیات لرونکی وی. ترڅو دیوی تولید په برخه کې ډېر خوا د مور شوده په کافی ګټور تمامېږي. اندازه شی او له بلی خوا له دی کبله چې مایعات، د مور د شودو ترکیب هم شربتونه، د میوو اوبه او د خوړو د موادو له پلوه په تېره بیا د غوا شوده، مناسب او په معیار برابر شی.

بنځی یوازی دکورپه چاروبوختي ندی

درګذشته هازن ها می پختند، مردها می خوردند و حالامردها می پزندوزن ها می خورند

تېر خو کلونه د افغانستان د بنځو لپاره ډېر ستونزمن او د کړاوونونه ډکو و، بنځی په کورونو کې بندیوانی وی، او د دوی ټول حقوق د دوی ځخه اخیستل شوی وو.

نسرین د ننګرهار ولایت د بنځو د شورا د قالینو د اوبدلو د خانګی استادی پورتنی څرګندونی د ارادی د ورځپاڼی د خبریال سره د یوی مرکی په ترڅ کې وکړی او زیاته تي کړه:

ما ډېر کلونه مخکی د قالینو اوبدل په هغه کورسونو کې زده کړل، چې د ننګرهار ولایت په مرستون کې د بی وزلو بنځو لپاره جوړ شوی و، وروسته بیا دوه دری کاله په کور کې د قالینو په اوبدلو بوخته وم، او څو تنه شاګردانی می هم روزلی دی، خو بیا وروسته د اقتصادی ستونزو له کبله ونه توانېدم چې په کور کې د قالینو اوبدلو ته دوام ورکړم، او بیکاره او بې روزګاره په کور کې ناسته وم، د بلی خوا زما مېړه هم معیوب دی، نو ژوند مو په ډېره سختی تېریده، اوله ډېرو ستونزو سره مخ وو، چې په مشکله به په دی توانېدو، چې د ځان او خپلو ځلور ماشومانو، چې دوه تې له ستر ګو لاس ورغله چې په ټولنېزو برخو کې برخه واخلی او د هېواد د بیا رغاونی په چارو کې د خپلو وروڼو سره یوځای او اوبه په اوبه کار معیوب هم دی ډوډی او خواړه پیدا کړو.

نسرین زیاته کړه:

کله چې په هېواد کې انتقالی اسلامی دولت رامنځ ته شو، دا ډټولو افغانانو لپاره او په تېره بیا د بنځو لپاره چې زمونږ په ټولنه کې د ټولو ځخه محرومه طبقه ده، یو نیک زیری او فال و، د انتقالی اسلامی دولت په رامنځ ته کېدو، بنځو ته نسبی آزادی ورکړل شوه، او دوی ته دا موقع په وکړی، بنځو ته په ټولنېزو چارو کې د برخی ورکولو په ارتباط، د بنځو وزارت رامنځ ته شو، او بیا ورپسی په ولایتونو کې د بنځو شورا ګانی جوړی شوی، کله چې په ننګرهار کې د بنځو شورا فعاله او جوړه شوه، ما هم دغی شورا ته مراجعه وکړه او دادی اوس د دریو میاشتو راپدیخوا ددغی شورا د قالینو د اوبدلو په برخه کې کار کوم او د شاګردانو په روزنه بوخته یم.

لومړی په پای کې وویل:

اوس چې په دی شورا کې په کار بوخته یم، او د خپل لاس د تیاکو ځخه کولای شم، ځان او خپله کورنی اعاشه کړم ډېره خوشحاله یم، زه به زیار وباسم چې د قالینواوبدلو په برخه کې بنه شاګردان وروزم او ټولنی ته یې وراندی کړم.

بزرگترین تحفهء یک شوهر

ارجمند بانو بیگم نام اصلی زوجه شاه جهان پادشاه بود. که در سال ۱۰۰۰ هـ تولد یافته و درسنه ۱۰۲۱ هـ با شاه جهان از دواج کرده ودر سنه ۱۰۴۱ در (زین آباد دکن) وفات یافته است. جنازه اورا ازدکن به (اگره) که به (اکبرآباد) معروف است نقل دادندویک بنا وعمارتی برقبر او از طرف شوهرش بنیاد یافته که در تجمل وزینت بی همتا است این تربد ارجمند بانو که خود شاه جهان پادشاه نیز در آن مدفون است بنام (تاج محل) معروف میباشدو شاه جهان به عنوان تحفه گرانبهای می خواست آنرا به همسرش تقدیم کند اما این تحفه به مدفن هر دو مبدل شد.

کاسنی سبزی خصلیه

مصریان قدیم از شیره این گیاه غذا های خوشمزه می پختند

فرانسویان کاسنی را برای خنثی ساختن اثرات تحریک آور قهوه می خورند

از این گیاه داروی مسکن ساخته میشودکه برای سل ریه وي نافع است کاسنی خون را تصفیه می کند واثر سود بخش روی کبدوطیحال می گذارد

برای جلوگیري از ناراحتی های معده وتقویت مزاج شرینی ای از کاسنی تهیه می کند بدین معنی که هم وزن شیره کاسني شکر ریخته مخلوط مذبور را می جوشانند تا به قوام بیاید سپس آنرا به مصرف می رسانند جوشانده کاسنی برای رفع قبظیت وطروات چهره مفید است درمورد رفع قبظیت باید جوشانده برگ وریشه کاسنی به مقدار دوپیاله در هنگام صبح مصرف گردد.

مجبوریت است یا حاتم بخشی

منابع خبری بین المللی گزارش داده اندکه اسماعیل خان والی هرات پس از بازگشت از سفر کابل درجمع عده یی از بزرگان شهر هرات گفته است که مرکز (کابل) تشکیلات (اردوی مقاومت یا اردوی جهادی) رادر کنار ساختار اردوی ملی باوی پذیرفته است. بدین گونه ساختمان نظامی ایراکه اوبنام (غند نظم جهادی) درکنار قول اردو نمبر چار هرات که خود قوماندان آن است ، تشکیل وپرورده بوده، رسمیت یافته است.گرچه این خبر تااکنون از سوی مرکز (کابل) تائید یا رد نشده است ، به هرصورت در تناقض با فرامین اداره انتقالی اسلامی افغانستان وامرسر قوماندان اعلی قوای مسلح افغانستان قرارمی گیرد چه جناب ریس اداره انتقالی اسلامی افغانستان طی فرامینی نگهداری اردو های تنظیمی،گروهی وشخصی وهمچنان ایفای وظیفه در دوپست ملکی ونظامی را توسط یک شخص ملغا قرار داده اند.

پس این طرح واین توافق چرا؟

جناب اسماعیل خان همین اکنون دو پست را در اختیار دارند یعنی هم والی ولایت باستانی هرات اند وهم قوما ندان قول اردوی هرات وعلاوه براین دو امیرالمسلمون هم لقب یافته اند وصاحب ساختار نظامی جدا از قول اردونمبرچار که از دید قانون هیچگاهی در افغانستان سابقه تشکیلاتی نداشته است برای سرکوب مخالفین وتامین آرزوهاوخواست های شان هم میباشد ، که کارکرد های جناب شان با این مجموعه ای که زیر دست دارند همیشه وبخصوص طی یکسال گذاشته مورد انتقادات شدید نه تنها سازمان های بررسی کننده وضعیت حقوق بشر بوده است بلکه سایر نیروهای موجود در هرات وحتی مردم عام وباشنده گان شهر هم نارضایتی های شانرا با ذرایع گوناگون واستفاده از فرصت های که میسر بوده وشده باربار ابراز داشته اند.

گزارش های واصله ازهرات حاکی از آنست که اسماعیل خان قبل از حرکت بصوب کابل در جلسه ئی با اراکین دستگاهش در هرات مسله در اختیار داشتن دوپست را مطرح ساخته بود وطی همین جلسه به موافقه رسیده بودندکه اگر جناب کرزی روی تطبیق فرمانش در این رابطه پافشاری کند "جناب امیرالمسلمون" باید ازمقام ولایت دست کشیده وآنرا به معاونش جناب میرعبدالخالق خان بخواهند ، اما به هیچ صورتی نباید فرقه چار را از دست دهند. واز سوی دیگر در کابل آقای جمیل شمس داشتند آماده می شدند تا منصب ولایت در هرات را اشغال کنند.

وحرف ضروری دیگر که نباید ناگفته ماندا اینست که معلوم نیست ضرورت داشتن ویاجودیت ساختار های زیر نام مقاومت وجهاد درصورتی که روی ساختار اردوی ملی آنهم به مشوره واشتراک مستقیم رهبران و نیروهای که هرکدام بارگران جهادو مقاومت را با اهدای جان های شیرین خود وهمسنگران شان بدوش کشیده و آنرا تا سر منزل پیروزی رهنمون بوده اند عملاً کار جریان داشته ونیروی دفاع از تمامیت ارضی ، استقلال ونوامیس ملی از ترکیب بهترین فرزندان افغان زمین به میان آمده وتکمیل می گردد، پس این نیروی دیگر یعنی چی؟ ازاین نیرو برای چی و بخاطر چی می خواهند استفاده کنند؟ برای مقابله باارد وملی؟ برای حفظ حاکمیت های ملوک الطوایفی ؟ برای قدرت نمایی وسوزانیدن چشم حریفان؟ یابرای حفاظت جان های شان که عزیز وامیر حوزه ها وسمت ها اند؟ یابرای روز مبادا؟ که کاش ملت افغان کار آیی این اردو های شخصی را در روز هاییکه باد مهر گان می وزید شاهد می بودند.

ودرادامه این حرف ها؛

آیا حکومت مرکزی به این گونه توافقات با سایرین یعنی آنهاییکه در خانه ها ومحلات خودشان دست کمی از آقای اسماعیل خان ندارند وهیچکدام حاضر هم نیستند درایت ،کاردانی وموثریت شانرا در استوار نگهداشتن پایه های حاکمیت دولتی حتی در ولایت همجوار به حاکمیت شان به نمایش بگذارند. هم دست یافته است یااین تنها امتیازی است که به جناب امیر صاحب حوزه جنوب غرب از روی مجبوری یا حاتم بخشی عنایت فرموده اند. وحرف اخیراینکه آیا مقوله (چه پیر چه عصای پیر) تقرر معاون بجای ریس مفاد فرامین را زیر سوال قرار نمی دهد.

صلاح الدین

که وغواړو، کولای شو

دکابل په ښاراو دکابل دنهارخخه نورو ولایتونوته دتلونکو موټرونود کرایي دلوړوالی او دترانسپورټونو او موټر وانانولخواد زیاتی په هکله له ډیری مودی راهیسی دخلکو شکایتونه او ګیلی روانی وی.

دکرایولوړ والی او بی اندولی او په دی برخه کی دترانسپورت (وزارت) ترافیکو او ملی بس بی غوری او عدم توجه خلك ناهیلی کړی وو. خوپه پای که دترانسپورت، وزارت په همت دپنجشنبی دورځی په غونډه کی چی ددغه وزارت ،وزیراو نوړو اړندو ادارو او د خصوصی سکتور داستازو په ګډون جوړه شویوه،دتکسیانواو دکابل ځخه ولایتونو ته دتلونکوموټرود کرایي لایحه تصویب شوه، کـه څـه هـم مخکـي څو.څـو ځلـی لایحـی تصـویب شـوی. اوبیادځینولاملونو دهغی ډلی ځخه دتیلو د نرخ موقتی لوړوالی ددی سبب شوچی لایحی دی عملی بڼه غوره نکړی اویوازی دی دکاغـذ پـرمخ لیکلـی پـاتی شـی. کـه څـه هـم چـی دځووخوپـه تیریدودتیلونرخ بیرته خپل لومړنی حالت ته راکوزشو.

دنوی لایحی جوړیدل او دنن ځخه دغی لایحی ته عملی بڼه ورکول زمونږ دکابل ښاریانواو ولایتونوته دتلونکو اوراتلونکومسافرولپاره په زړه پوری زیری او اقدام دی. ټول هیواد وال په دی خوشحال دی چی په پای کی داسی یوه مسوولیه اداره پیداشوه اوخان یي مکلف وګانه چی دترانسپورت چاروته سمون ورکړی. او په دی لاره کی دټولـو اړونـدو ادارو او دخصوصـی سکتور د استازوسره ددغـی ستونزو دحل لاری چاری ولټوی او په ګډه یوه لایحه جوړه کړی. خو دبلی خوا هیوادوال او دکابل ښاریان ددی غوښتونکی هم دی. چی ددغی جوړی شوی لایحی عملی کیدوته دی غوڅه پاملرنه وشی. او دښارد ګنې ، ګونې په سیمو. تم خایونواو د ولایتونـو د موټرو په اطلاع دی ورسیږی همدا راز داړوندو ادارو او دخصوصی سکتور داستازو پـه ګـډون دی یوکمیسیون جوړشی او دلایحی دتطبیـق دنـده دی ورتـه وسپارل شـی .ځکـه دقوانینـو. فرمـانونو اولایحـو صـادرول او جوړیـدل یـو کـار دی خـو ددغـو قوانینـو. فرمـانونو او لایحـو تطبیـق او دعمـل پـه ډګرکـی پلـی کـول يي بيا نورالله نور او غوره کاردی. چی موږ هم دچارواکوڅخه دغوره کار د ترسره کولو هیله من یو.

چنارګل

راغلی لیك

وایي چې لمړی فیل لپاره کوټه جوړه کړه او بیا فیل واخله.

پدي وروستیو دریـو څلـورو میاشـتو کـې د مخابراتو وزارت د تیلی کمونکیشن ریاست په نوښت د کابل ښار د دریم مکروبـن، خیرخانه مینه. پروان مینه، څلورمه کارته او د میوند واټ په پسته خانو کې دننه بین المللي مخابري هم په کار وليدلي اګر که پدي سره د سیمي اوسیدونکو لپاره اسانتیاوي برابري او د ملي عوائیدو برخه هم پکي وشوه خو سره دهغي نکه څرنګه چې د پست او تلیفون ملي او بین المللي مقررات دي تر لیدو پاتې دي لمړی دا چې د افغانستان پست د ډېر پخوا ځخه د نړیوال پست د ځرښتوب وياړ لومړی په ملي او بین المللي کچه د پست محرمیت. مصئونیت او قانونیت د دولت په تضمین دي چې ددغه قانوني لوړ اعتبار له مخي په ټول هیواد کې د پست دفترونه خاص او دغیر مسلو کسانو ورتلل منع او د جوړو شوو ځرڼو تر شا چې د ملي او بین المللي قانون سره سمي جوړې شوي دي پستې کړنې صورت مومي او پدې توګه د دولت او خلکو محرم او خورا مهم اسناد لیکونه په پوره ډاډ د هیواد ګوټ ګوټ ته او بهر ته وړل او راوړل کېږي.

پدې نوی نوښت سره د پست قانونیت د ګډوډی بې مسولیتي پر لور خوځند کړی شو دوهم دمخابرو کول هم ورته د دولت نه خوا ځخه غوره تضمین شوي مقررات لري لکه څرنګه چې د پست قانونیت له مخې ټول رسمي او شخصي لیکونه د سر تړلي پاکټ په منځ کې او د خلاصون او لیدو حق پي هیڅوا ته نه شته همدارنګه د تلیفون او د مخابري ارتباطات هم د مقرراتو سره سم د بل چا د اوربدو ځخه خوندي او پوره ستر سره تضمین دي.

اوس د پسته خانو په دننه د مخابرو او پستو ګډون دغه سترونه مات او ګوډ ګرځ. ځکه چې د پسته خاني په واړه انګړ کې چې یواخې د پستې مراجعینو په کچه جوړ دي د مخابرو کولو مراجعین هم پرې ور زیات شوي د ناستې خای برابر ندي په لس ګونه تور سری ناڅینه سره را غونډ او د هیواد د باندې نه خپل زوی، ورور، خور لور او یا میړه او ماندینی سره خبرې کوي طبعاً فاميلي رازونه او ځني کورنی مشکلات سره وایي او دا خبرې د کارمندانو په ګډون ټولو ته د سوا ځرګندي او پر ځینو خبرو یې خندا وي هم سره جوړې شي. نو دا ویلی شو چې دا دچارو په نوښت کې قانوني نیمګړتیاوي او په ترڅ کې یې پر دولتي پست او د مخابرو خبرو پر ستر پوره اغیز لویږي نو غوره ده چې د قانون سره برابر دځینې نورو ودانیو په ښار لکه د پښتونستان واټ د مخابراتو ودانی کې چې د پستې او مخابري دفترونه او د غړبدو کړکې سره جلا او اصولي دي دا په دغو پسته خانو کې هم جلاوالی راوني او هم قانون پر خای کوي. یواخې قانون پیاده کول د سمون ډېره شوره او سمه لار ده .

گل رحمان (خاځي)

برق هم از گوشت گاومیش رنگ گرفته

شیرو شنیدم ،که برق حرارتی در لین ها آمده ، گپ راس اس ؟

بلي، وزارت آب و برق اعلان کرد، دیده شود، که دوام میکند یانی؟

بابه شیرو، حرارت وروشني برق حرارتی نسبت به برق آبی زیادتر اس؟

نی او زن برق اصلاً" حرارت نداره ، اندازه روشنی نظر به کیفیت دستگاه فرق می کند، اگر مکتب می خواندی وسواد می داشتی این مسایل را به ساده گی می فهمیدی.

اومردکه ، وقتی که تفاوت نداره چرا نامشه برق حرارتی ماندن؟

بخاطریکه از انرژی و قوه تیل دیزل حاصل می شه.

بابه شیرو، ای وزارت برق ده ای غریبی پیسه دستگاه وتیل ره از کجا بدست می آوره؟

خانم عزیز دستگاه حرارتی به کمک انجنیر های خارجی ترمیم شدوتهیه تیل دستگاه ره هم یک موسسه خارجی بذمه گرفته.

او شیرو، ایتوگپ که اس ، ای مسولین برق خی چرا قیمت برق را بالا بردن ؟

بلی یگانه دلیل قوی شان تهیه معاش پرسونل دستگاه است، دگه کدام مصرفی خو نمی کنند.

شیرو ، پرسونل شان قبلاً" معاش نمی گرفتند.؟ یا منتظر با معاش بودند.؟

چرانی پرسونل معاش داشت، خومسولین شان اینقدر خرچ اضافی نداشتند.

شیرو نگفتی ، که قیمت برقه از چه وقت بلند حساب می کنن.؟

برای دو دوره میتر خوانی سال روان.

ای دودوره از چه وقت شروع می شه.؟

از پانزده قوس.

چی میگی اومردکه ، اگر مه وچارتای ده گه بیچاره بی سواد هستیم ، شکر یکتعداد دیگر خو با سواد استن بعضی گپهاره خو می فامند.

خانم مقصدته نه فامیدم .؟

شیرو، مقصدت ای اس ، که برق حرارتی ده تاریخ ۲۱ جدی فعال شد وتو میگی ، که قیمت برق از تاریخ ۱۵ قوس بلند شده ؟

بلی بخاطریکه پیشنهاد وزارت برق در رابطه به تزیید قیمت برق از طرف ریاست دولت برای دودوره اخیر میتر خوانی سال جاری منظور شده واین دودوره از تاریخ ۱۵ قوس آغاز میگردد. و وزارت برق منظوری ریاست دولت را سند قرار داده واعلان دوچند قیمت صرفیه را نمودند.

شیرو، مه خوگیچ شدم، مصارف از کمک های خارجی و قیمت برقه بلندمی بره وزارت برق وخنده آور ای که بیست روز پیشتر از افتتاح برق حرارتی، صرفیه دوچند حساب می شه ، آیا مسولین متوجه همچو خلاف رفتاریهای ، که (مشت نمونه خرواراست) شده اند ، می شوند ویانی.

خانم محترم، حافظه ات را از دست داده یي، مه پیشتر گفتم، که پیشنهاد تزیید قیمت برق ره ، که دولت منظور کرده، چطور خبرنیستند.

اومردکه وقتی که دولت قیمت برق ره بلند کنه، معاش مامورین ره هم مثل صرفیه برق دوچند خویکنن واگردوچندنمی کنن، یکنیم چندخو بکنن، آخر تابه حال برای شما مامورین کدام کمک شده.؟

بلی پول جدید چاپ شد ،هم برمامور هم بردیگران.

اومردکه پول جدید چه کمک کد ، امو برنج پرمله که سیر هشتاد هزار می خریدی، حالی به هشتاد روپیه می خری ، دیگه کمکش ده کجااس.؟

خانم جان کمکش ده کم بودن حجمش ، دیگه کدام منفاش را ندیدم.

او مردکه گپ برق ماند ، اگه شاروالی ره مردم میگه ، که چرا قیمت گوشت بلند رفته. میگه گاومیش از پاکستان می آید واگه وزارت برقه پرسان کنی، که چرابرق قیمت شد میگه پرسونل خوده معاش میتم. امو گپ اس، که میگن (خربوزه از خربوزه رنگ میگیره) برق هم از قیمت گوشت گاومیش رنگ گرفته است.

محمد اشرف حنیفی

ارادہ
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
سکرترمسوول: سید محمد "عاذل"
ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: محمد جمیل امیری چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
قیمت یك شماره ۲ افغانی